مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۰۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اویایمه برخه)

### محمد عمر جان مجددي

د حضرت صاحب غلام صدیق زوی. له ۱۸۸۰ز کال مخکې په پنجوایي کې اوسېدهٔ. دی هم مذهبي او هم سیاسي مشر وو. له خپلو دوارو زامنو حضرت عبدالباقي او حضرت عبدالکریم سره یو ځای ئـي د برتانویانو پر ضد د میوند په جګړې کې فعاله ونډه واخیستله. وروسته له دې چې ایوب خان په ۱۸۸۰ز کال کې فارس ته وتښتېد حضرت عمر جان هرات لاړ چې د برتانوي یرغلګرو پر وړاندې د جهاد دعوت وکړي. د هرات علماوو دی فارس ته ولېږهٔ تر څو ایوب خان وهڅوي چې بېرته راستون سي او د هراتي څواکونو مشري او رهبري پر غاړه واخلي. په پای کې کله چې برتانویان د ۱۸۸۱ز کال د آګست په میاشت کې له ایوب خان سره توافق ته ورسېدل، عمر جان چې د ایوب خان استازی وو ونـهٔ منله چې د توافق اسناد لاسلیک وکړي. په ۱۸۸۲ز کال کې عمر جان او زوی ئـي حضرت عبدالباقي چې د میا صاحب په نوم ئـي شهرت درلود د امیر عبدالرحمن خان په امر اعدام سول. دوه نور زامن ئـي فضل حق او حضرت عبدالکریم تبعید سول.

### محمد صادق مجددي

د شور بازار د حضرت صاحب، قیوم جان آغا زوی په ۱۸۹۵ز کال کې زېږېدلی دئ. دی د شیر آغا فضل عمر ورور دئ چې د خپل ورور شیر آغا له مړیني وروسته حضرت سوی وو. د اعلیحضرت امیر امان الله پر ضد پاڅېدلی وو، ونیول سو خو دوسیه ئـي وتړل سوه. له حبیب الله کلکاني سره ئـي د منځګړي په توګه کار وکړ. څو موده وروسته حبیب الله کلکاني په دې تور په کور کې تعلیقي حبس کړ چې ګنې له نادر خان سره ئـي همکاري کوله. نادر شاه ورته د عدلیې د وزارت د وزیر د څوکې وړاندیز وکړ خو دهٔ دا وړاندیز قبول نـهٔ کړ. له ۱۹۳۱ تر ۱۹۵۲ز کال پورې مستشار وزیر او وروسته په قاهرې کې سفیر. په ۱۹۳۱، ۱۹۳۳، ۱۹۳۵ او نورو کې ئـي مکې مکرمې ته د حج لپاره سفرونه کړي دي. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۳۹ز کال پورې په سعودي عربستان کې مستشار وزیر او ورسته سفیر. له دغو نېټو وروسته ئـي په سعودي عربستان او مصر کې ژوند کړی دئ چې په ۱۹۷۶ز کال کې د مدینې په ښار کې وفات


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سو. اووهٔ زامن ئـي درلودل : هارون، موسی، صالح، شعیب، عبدالله او عبیدالله. لور ئـي طاهري له (شفیق الخیشان) [1] سره وادهٔ کړی دئ (چې په ۱۹۶۵ز کال کې د مصر د کرني وزیر سو.)

## رحمت الله مجددي

د مـحـمد معصوم (میاجان) مجددي کشری زوی او د صبغت الله او عزت الله ورور. د حـبـیـبـیـې له لیسي څخه فارغ سوی دئ. شوروي اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره واستول سو چې د لامبو د اوبو د ډنډ په پـېـښـې (؟ - لیکوال) کې ووژل سو. جسد ئـي کابل ته راولـېـږدول سو او په خپلي پلرنی هدیرې کې خاورو ته وسپارل سو.

## صبغت الله مجددي

د مـحـمد معصوم (میاجان) مجددي زوی په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. د حـبـیـبـیـې له لیسي څخه فارغ سوی دئ. د قاهرې د الازهر په پوهنتون کې ئـي د شپږو کالو لپاره د حقوقو او فقهٔ/ قانونپوهني برخه ولوستله او په ۱۹۵۳ز کال کې ئـي په دې برخې کې خپله ماستري تر لاسه کړه. د شپږو کالو لپاره ئـي د غازي، حـبـیـبـیـې، نجات او استقلال په لیسو کې د ښوونکي په توگه تدریس وکړ. په دارالمعلمینو کې د قران او اسلامي قانون/ شریعت ښوونکی او هم په کابل کې د لوړو اسلامي مطالعاتو په انستیتیوت کې ښوونکی. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۴ز کال پوري د کودتا او د شوروي د صدراعظم نیکیتا خروشچیف د وژلو د هڅې په تور زنداني سو. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پوري ئـي د امریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړ. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پوري د کوپنهاگن د اسلامي مرکز مشر. د افغان د آزادئ د ملي محاذ مشر. وادهٔ ئـي کړی او شپږ زامن لري : نجیب الله، ذبیح الله، عصمت الله، عظیم الله، رحیم الله، عبدالله او صدیق الله. (عظیم الله په ۱۹۷۹ز کال کې په پـېـښور کې ووژل سو.) په عربي او انگلیسي خبرې کوي. اوس په پـېـښور کې مـېـشت دئ.

## عبدالهادي مکمِل

د صافي له قبیلي څخه دئ او په ۱۹۲۹ز کال کې زېـږېـدلی دئ. په ۱۹۵۶ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. دیپلومات. په ۱۹۷۰ز کال کې په کویټي کې قـنـسـل وو. د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې د باندنیو چارو د وزارت د اداري چارو مرستیال وزیر. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری په میاشت کې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو لومړی مرستیال وزیر. په ۱۹۸۰ز کال کې د عراق سفیر. په ۱۹۸۱ز کال کې ئـي د ژنوا د بشري حقونو په کمیسیون کې د افغان له حکومت څخه دفاع وکړه. له ۱۹۸۵ز کال راهیسي په کابل کې اوسـېـږي. مورنی ژبه ئـي پـښـتو ده.

## حاجي ولي مـحـمـد مخلص

د کاکړ له قبیلي څخه په ۱۸۸۸ز کال کې په کندهار کې زېـږېـدلی دئ. مشهور شاعر او هجو لیکونکی. په ۱۹۴۱ز کال کې د ننگرهار مرستیال والي وو. لیکني ئـي په پـښـتو کولې خو تر څنگ ئـي په عربي او اردو هم خبرې کولې. په ۱۹۴۲ز کال کې وفات سو.

[1] -Shafiq al-Khishan


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## فائـقـه مختار زاده

د سوداګر غلام حسن مختار زاده لور ده. په ۱۹۷۰ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې شامله سوه او د باندنيو چارو د وزارت په کلتوري څانګه کې ئـې کار وکړ. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ز کال پورې ئـې د باندنيو چارو د وزير حفيظ الله امين د کابينې د کارمندې[2] په توګه خدمت وکړ. په ۱۹۸۱ز کال کې له افغانستانه ووتله او اوس په سويتزرلند کې ژوند کوي. مورنۍ ژبه ئـې دري ده.

## جعفر مختار زاده

(د هراتي شيعه سوداګر) حاجي مختار خان زوی په ۱۹۰۰ز کال کې زېږېدلی دئ. د ملي بانک رئـيس. تقاعد سوی او اوس په کابل کې ژوند کوي.

## ډاکټر محـمد توفيق مختار زاده

د غلام حسن مختار زاده زوی په ۱۹۴۲ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۹ز کال کې د حبـيـبـيې له ليسې او په ۱۹۶۲ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۰ز کال کې ئـې خپله دکتورا د برلين [3] له آزاد پوهنتون څخه ترلاسه کړې ده.

## مولوي عبدالکريم منشي

د ملا محمد امين زوی په هرات کې زېږېدلی دئ. له خپل پلار او بـېـلابـېـلو علماوو څخه ئـې فقه، د عربي ګرامر او منطق لوستی دئ. د کرني په رياست کې رسمي کارمند. د سوداګريزې خونې او د هرات د الکتريک کمپنۍ رئـيس. شاعر.

## محـمد بشير منشي زاده

د منشي محـمد نذير زوی په ۱۸۹۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ (منشي محـمد نذير د هندوستان وو او د محـمد عظيم ورور وو چې په ۱۹۳۳ز کال کې ئـې د برتانيې په سفارتي استازيتوب کې درې تنه ووژل). هم ئـې خصوصي زده کړې کړې او هم ئـې د حـبـيـبـيـې په ښوونځي کې زده کړې کړې دي چې په ۱۹۱۳ز کال کې ورڅخه فارغ سو. د سراجيه په حربي ښوونځي کې د انګليسي ښوونکی. د کابل ښار د ښوونځيو منشي/ سکرتر. د پروان، قطغن او بدخشان په ولايتونو کې ئـې د لومړي ځل لپاره ښوونځي پرانيستل. د امان الله خان پر مهال کله چې نادر خان د قطغن او بدخشان والي وو منشي زاده د اصلاح او په فيض آباد کې د اتحاد قطغن محرر وو. کابل ته راغی او د اتحادِ مشرقي د محرر په توګه وګومارل سو. د معارف د وزارت کارمند. کله چې امان الله خان عزل سو، منشي په خان آباد کې يو ښوونځی پرانيست. د حبيب الله کلکاني پر مهال زنداني سو خو بالاخره منشي زاده موافقه وکړه چې (نزهة الحبيب) يا "د حبيب غورځنګ" ايډيټ کړي. په ۱۹۳۰ز کال کې د افغانستان د ادبي ټولني لومړی مدير. په ۱۹۳۳ز کال کې د نادر شاه له

---

[2] - Cabinet Staff

[3] - Free University of Berlin


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پلوه زنداني سو او لس کاله ئـي د ارگ او دهمزنگ په زندانونو کي تېر کړل او په پای کي په ۱۹۴۱ز کال کي د دهمزنگ په زندان کي د تایفوید یا لویي تبي له کبله وفات سو.

## خان جان مقبل

د احمد جان زوی په ۱۹۳۳ز کال کي د کابل په کمریو کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۲ز کال کي د بگرامیو په لومړني ښوونځي کي شامل سوی او په ۱۹۴۸ز کال کي فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۵ز کال کي له لیسي څخه فارغ سوی دئ. حربي پوهنتون کي شامل سوی او په ۱۹۵۸کي فارغ سوی دی. شاعر.

**نور بیا**

## موسی جان

سردار. د امیر یعقوب خان زوی چي مور ئـي د سردار یحیی خان لور وه په ۱۸۶۸ز کال...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ